pashto / پښتو

**د دندې موندلو لار**

دا وېډيو په لومړي ګام کې د هغو وګړو لپاره چمتو شوې ده چا چې د اروپايي اقتصادي ټولنې (EU/EES) څخه بهر په بل کوم هېواد کې زده کړې سر ته رسولې وي او اوس غواړي چې په سويډن کې په يو کمون يا يو ولايتي شورا کې دنده ترسره کړي. تاسو کېدای شي يو ډاکټر، د غاښو ډاکټر، نرس، ښوونکی يا د وړکتون ښوونکی ياست. تاسو کېدای شي د روغتيايي، ښوونې او روزنې يا پاملرنې په څانګه کې په بله کومه رشته کې د تجربې يا زده کړې څښتن ياست. ستاسو مهارت ته اړتيا ده.

دا وېډيو تاسو ته په خپله رشته کې د کار کولو لپاره اړينو چارو په اړه معلومات او لارښوونې وړاندې کوي، د بېلګې په توګه په سويډن کې د خپل رشتې په برخه کې د کار جواز څنګه اخيستل کېږي چې د ښوونې اوروزنې او روغتيايي څانګو په زياترو دندو کې د دا راز د کار جواز درلودل شرط دی. دا وېډيو د کار څښتن او لارښودانو لپاره چې لازمو معلوماتو ته اړتيا لري، هم ده.

په دې وېډيو کې د کار لټولو امکانات شتون نلري. دا کار د کارموندنې اداري ته د مراجعې له لورې ترسره کولای شئ.

دا وېډيو په سويډني ژبه ترتيب شوې ده خو ګڼ شمېر فلمونه داسې شته چې ورلاندې متن ليکل شوی وي چې بېلابېلو ژبو ته ژباړه کېدای شي. د ژباړې لپاره د ويډيو لاندېنۍ غاړه کې د "undertexter" (فلم لاندې متن) علامه باندې کېکاږئ او بيا "översätta automatiskt" (اتوماتيک ژباړه) غوره کړئ او ورپسې د خپلې خوښې ژبه غوره کړئ. لاندې فلم کتلو له لارې يې امتحان کړئ:

https://www.youtube.com/watch?v=baigQhEnthM

که چېرې تاسو په وېډيو کې وړاندې شويو ټولو معلوماتو باندې نه پوهېږئ نو کولی شئ چې د مثال په توګه د لاندې کسانو څخه مرسته واخلئ:

- خپلوان، ملګرى، آشنا يا ګاونډي
- د کارموندنې اداري مامور.

دا وېډيو په لومړي ګام کې د هغو خلکو لپاره چمتو شوې ده چې په سويډن کې اقامه لري. خو کېدای شي وړاندې شوې معلومات پناه غوښتونکو ته هم ګټورې لارښوونې وکړي. دا چې يو کس د امکان تر حده د وخته پېل وکړي او د کار موندلو بېلابېلو شرايطو څخه خان خبر کړي، ډېر ګټور تماميږي. تاسو سر د نن نه کولای شئ چې د سويډنې ژبه په زده کړه لاس پورې کړئ.

https://www.informationsverige.se/Svenska/lara-svenska/Sidor/Lara-svenska.aspx.

د دې وېډيو چارې د سويډن د کمونونو او ولايتي شوراګانو ټولنې (SKL)، د کارګرانو اته واړه اتحاديو، د اکادميسينو ټولنې SSR، د فزيوتراپيتانو اتحاديې، د ډاکټرانو اتحاديې، د ښوونکو ملي ټولنې، د سويډن د کمون د کارګرانو اتحاديې، د سويډن د ډاکټرانو ملي ټولنې، د ويژن (Vision) ټولنې، د روغتيايي چارو کارګرانو اتحاديې او د اکادميسينو ټولنې (AkademikerAlliansen) په مرسته او همکارۍ پر مخ بيول کېږي.